**ځوارلسم پودکاست**

**معادن**

**سریزه (داود جنبش):**

السلام علیکم؛ هیوادوالو، اورېدونکو او له ولسمشر محمد اشرف غني سره د پودکاستونو مینه‌والو، هر کله.

زه داود جنبش یم. امروز در مورد یک بخش دیگری از ارزش ها، یعنی گنج‌های نهفته افغانستان صحبت می کنیم و از آقای غنی راجع به آنچه در این زمینه انجام شده یا باید انجام شود، می شنویم.

ډاکتر صاحب محمد اشرف غني تاسې مې هم د زړه له کومي درناوي ومنئ، یوې بلې خپرونې ته ستړي مه شئ.

**دکتور غني:** زښته ډېره مننه له تاسې نه، تاوده سلامونه ټولو وطنوالو ته، خویندو او ورونو ته، هر چېرې چې دي.

**جنبش:** د هغوی په استازیتوب به بیا تاسې ته کور ودانی ووایم، ډېره مننه، علیکم السلام. نن موږ [د] افغانستان په پوښلو او پټو خزانو باندې غږېږو نو دې پیل کې غواړم وپوښتم چې افغانستان د جیولوجۍ له پلوه څومره مهم دی او پخپله دغه پېژندنه د افغانستان د جیولوجۍ څومره مهمه ده؟

**دکتور غني:** پېژندنه زښته ډېره مهمه ده په دې [خاطر] باندې چې [د] مثال په توگه کابل ته وگورئ، کابل د زلزلو په مرکز باندې ودان دی، له یوې خوا نه د پغمان، او له بلې خوا نه سروبی. که دا نظر کې ونه نیسئ ساختمانونه چې جوړوئ او بې له دې سنجش نه جوړ شي او کورونه جوړ شي دا زښت ډېر خطر دی. پوهېږئ ولې کابل کې څو پېړۍ خلکو یوازې له کاه گل نه او له چنار او دستکو نه کورونه جوړول؟ ځکه په شپاړسمه پېړۍ کې کابل یوه میاشت [پرله پسې] زلزلو نه وټکېده او کورونه وران شول.

همدارنگه چې نورو برخو باندې وگورئ دا ټول سره تړلي دي. بلې خوا نه د افغانستان زېرمو باندې، پټو زېرمو باندې چې یوازې معادن او گاز او دا نه دي؛ انرژي ده نور شیان دي چې لا موږ ورباندې نه پوهېږو، ځکه د انسان پوهه هغه شی نه ده چې کایناتو باندې پوه شي، دا کشفول دي. نو لومړي وخت کې سلها میلیونه کاله مخکې شمال او جنوب د افغانستان دوه مختلف براعظمونو پورې تړلي وو. دا یو ټکر راغی د هندوکش او همالیا غرونه یې سره یو کړل نو دا برخه راغله. دویم کابل جزیره وه، دا له هندوستان نه بېله وه او که دې باندې سړی پوه نه شي دا ستر د مسو معادن چې

کابل او لوګر او نورو کې پراته دي په اهمیت یې نه پوهېږئ. بله برخه یې داده چې د مثال په توګه شهردروازه او آسمایي غرونه د عمر له نظره تفاوت لري او دلته هم دا په کار ده چې دې ابعادو باندې پوه شوو. نو جیولوجي اساس زموږ د جغرافیې دی او لکه اوبه چې مختلفو هیوادونو سره مو تړي، لاندې د ځمکې پلیټونه ورته وایې، دا پلیټونه نورو ممالکو سره مو تړي. د مثال په توګه پکتیکا کویټې سره تړلې ده، پلیټ یې په دې باندې دی. هاخوا ته وزیرستان او دې باندې، که پکتیکا کې چې ډېر احتمال لري لوی ذخایر د ګازو وي او د تېلو؛ دا بې له دې نه چې په دې پلیټونو باندې پوه شئ، نه پوهېږئ وربانديې. همدا رقم هرات حوزې کې څومره تېل دي دا بېرته ترکمنستان او دې سره تړلي او شمال شرق آمو سیند او تاجیک... نو ضرور ده چې په دې باندې مونږ واقعاً پانګه واچوو، علم پیدا کړو او پوه شو چې هم زېرمې څه دي او هم خطرات یې لکه زلزلو او نورو نه څه دي؟

**جنبش:** یعنې که معدن لټوو خپله جیولوجی باندې باید ډېر سم پوه شو چې کوم جریانونه په تېرو وختونو کې تېر شوي دي او کوم شیان کومې خواته تللې دي او د دې ترڅنګ دا معلومات هم پیدا کړو چې کوم خطرونه او کوم موقعیتونه راته په طبیعت کې شته.

**دکتور غني:** بالکل، ځکه د افغانستان راتلونکې هوسایي په دې پورې تړلې ده چې څه رقم علم پیدا کوئ او جیولوجي مو چې خدای جل شانه زښت ډېر لوی نعمتونه راکړي دي، دا به انسان په نعمت باندې بدل کړي یا خدای ناکرده په غضب باندې.

**جنبش:** در بسیاری مناطق مهم از نظر جیولوجیک ما در عین حال معابد هم وجود داشته. این همزیستی چه سابقه ای دارد و به کدام زمان بر میگردد؟

**دکتور غني:** ابتدا حد اقل به دوران بودایی و زردشتی ما بر میگردد و شاید پیش از آن هم باشد.

من یکبار که نقشه آثار باستانی افغانستان را همراه با فرانسوی‌ها ترتیب می کردم، [متوجه شدم که] تقریباً یک به یک آثار عمده باستانی ما با معادن عمده ما ارتباط دارد. عینک یک نمونه اش است، اما نمونه‌های دیگر هم است. طلای، طلا تپۀ شبرغان که بعد از مصر یکی از کلانترین ذخایر تاریخی طلایی است از دوره برنج [برونز] یک نشان دهنده این است. لعل بدخشان در مصر باستان تا کوریا رواج داشته و همیشه یاد آوری شده. بخش دیگرش معلومدار تاریخ زراعتی است. اگر فردوسی را ببینید، به طور مثال شاه‌های افسانوی را ارتباط میدهد به این که کدام عناصر را کشف کردند و در اختیار انسان قرار دادند و تمدن‌هایی ایجاد شد و خاصتاً بلخ در این همیشه به حیث یک محل پیش قدم و ممتاز مطرح می شود. در عصرهای معاصر از دوران احمد شاه بابا تا شیر علی خان ما صنعت نظامی داشتیم. توپ بزرگی که در پیش روی موزیم لاهور مانده شده از توپ‌های احمد شاه بابا است. همچنین از عصر شیر علی خان ما فابریکه‌های نظامی داشتیم. بنابراین یک بخش دیگر این به تاریخ نظامی تعلق می گیرد. فردوسی باز هم همیشه از

خنجر هندی نام می گیرد وغیره. از نگاه نقش متخصصین بیرونی تا حدی  که معلومات فعلی موجود است عبدالرحمن خان اولین فردی بود که جیولوجست‌های انگلیس را استخدام کرد به صورت منظم، و دلیل عمده اش این بود که فابریکه حربی را که در باغ عالم گنج که فعلاً نزدیک پُل هارتن قرار دارد ذغال میخواست. می فهمید که یک دلیل عمده ییکه جنگلات کابل و اطراف آن محو شد از خاطر همین بود که این فابریکه با [انرژی حاصله از سوختاندن] چوب [فعالیت می کرد]؛ تحقیقات ابتدایی انجام شد، اما در آن وقت وسایل ترانسپورت وجود نداشت. به صورت منسجم اساس در دوران صدارت داود خان گذاشته می شود که مرحوم داکتر محمد یوسف خان برای مدت زیاد وزیر معادن وصنایع افغانستان بود و بعد از آن صدر اعظم افغانستان بود. به این ترتیب اساس سروی جیولوجی گذاشته شد و در این زمان هم سروی معادن و هم سروی نفت و گاز افغانستان به صورت منسجم صورت گرفت و یکی از نتایج آن، انکشاف منابع گازی ما در شمال افغانستان بود که صادرات به اتحاد شوروی صورت گرفت و در آن وقت گاز تاجکستان از ما تهیه می شد و در ختم دوره داود خان تقریباً ۱۰ فیصد عواید ملی ما تنها از این منبع صورت می گرفت. در این بار هم تحقیقات از طرف انگلیس ها، هم از طرف امریکا مگر خاصتاً تحقیقاتی که از طرف متخصصین اتحاد شوروی صورت گرفت، قابل توجه و چشمگیر بود که بعداً بعد از جمهوریت، ما اقدامات دیگری کردیم، مگر اساسات گذشته و تعلیمات یک قسمت متخصصین افغان که مثل داکتر صاحب یوسف خان اول در جرمنی تحصیل یافته بودند و آن [ها] با پول افغانستان فرستاده شده بودند و دوم بعد از آن از نگاه سکالرشیپ‌ها و این‌ها و مخصوصاً نوع توأمیتی که در تحقیقات جیولوجی با اتحاد شوروی سابق به وجود آمد اساسات شناخت جیولوجی مُدرن را در افغانستان گذاشت.

**جنبش:** اړخونه ډېر دي، زه به هر یو باندې لنډه لنډه پوښتنه وکړم خو دلته غواړم په دې پوه شم چې ښه، دغه پلټنې چې سابقه یې ډېرې لرغونې زمانې ته هم تېرېږي بیا وروسته دا معاصر وختونو کې هم پلټنې شوې دي، د امریکا د جیولوجۍ ادارې له خوا په دې وروستیو کې تاسې اشاره درلوده، حتماً به هغه پلټنې چې پخوا کیدې او دغه امکانات چې اوس ټکنالوجۍ په تېره بیا د فضا نه د سپوږمکیو یا اقمارو له لارې منځ ته راغلي، دې به کار ډېر آسان کړی وي؟

**دکتور غني:** هم هو، هم نه. هو په دې معنی چې باید دې ته وګورو چې څه رقم معلومات مو په کار دي؟ یو عمومي اساسي معلومات دي چې هغه باندې په دې راځئ چې عمومي هوایي سروې ګانې باید وي او دا خاص شرایط لري، په دې معنی چې خاصې طیارې دي او کم له کمه یوکال باید ټوله ساحه وګوري. هغه وخت کې چې زه د مالیې وزیر وم ما دې مسئلې باندې ترکیز راوړ، مګر ټولو باندنیو معلومداره ماته یې وویل، نه، افغانستان څه نه لري مګر زما پس شا به یې ویل چې دی لیونی دی افغانستان کې غیر له تیږو نه بل شی نشته! نو زه مجبور شوم چې له خپل عوایدو نه چې زښت ډېر لږ وو، اداره د جیولوجي د امریکا په لومړني قدم کې استخدام کړم.

**جنبش:** پیسې تاسې ورکړي!؟

**دکتور غني:** پيسې موږ ورکړې په اول کې، پس له هغه نه چې دوی پوه شول چې دلته څه شی دي [بيا] څو سوه ميليونه ډالره يې ورکړل. د هوا نه سروې اساسات ښيئ، اوس له هغه ټکنالوجۍ نه چې نن موجوده ده معلومدار د ځمکې لاندې هم دوی ليدلی شي په مراتب دقت باندې، مگر دا يې اولي مرحله ده. او دې کې روسانو کافي پرمختگ کړی وو چې د ځمکې هغه چې ميداني تحقيقات ورته وايي هغه سر ته ورسيږي، له بدې مرغې نه د شوروي اتحاد له منحل کيدو سره انسټيټيوټونه شخصي شول او ما هر څه کوښښ وکړ د ماليې د وزارت په وخت کې چې دا اسناد پيدا کړم او په رسمې توگه يې حتی له روسيې نه واخلم، دوی سره نه وو، ځينې برخې يې په انگريزی ترجمه شوې وې اما  مخصوصاً په کونړ او نورستان کې موږ مجبور شو دا سروې پس ته خپله وکړو ځکه هغه نقشې سمې نه وې. دلته زموږ يوه لويه پانگه زموږ د پولې تخنيک استادان دي چې  خدای دې دوی لري. دوی هم ليکنې کړې او هم په دې څېړنو کې شامل وو او خاصتاً دوی خپل يادداشتونه نيولي وو. دا يې دويمه برخه ده.

دريم اقتصادي نتايج د دې سنجول دي او دا بې له دې نه چې حفريات وکړئ تر [هغو] چې کيندنې ونکړئ او حفريات نه وي دا نه تثبيتيږی چې هغه شی چې تاسې ورباندې يقين لرئ، شته که نشته؟ او هلته ده چې بيا واقعي ارزښت معلوميږي. دې برخې کې لويې کمپنۍ چې پانگه اچوي د دوی جيولوجستان دومره اهميت لري چې ځينو ته يې ۱۰ زره ډالره په ورځ کې ورکول. نه پوهيږم اوسني قيمتونه څه دي.  نو دا ابعاد د علم فرق لري او په دې اساس باندې بله پوهه مو چې په کار ده د قراردادونو ده او بيا د استخراج ده، ځکه چې استخراج کې که ټول صلاحيت مو ورکړ کمپنۍ ته، بيا هم تاسې په هوا کې پاتې کيدلای شئ. نو مراحل زښت ډېر دقيق دي، ډېره سخته توجه غواړي دا يوازې په دې نه کېږي چې له هوا نه وسنجول شي. هوا کار آسان کړی، مگر بېرته خبره په ځمکې باندې ده.

**جنبش:** دقيقاً به اين مراحل تا حدی که حوصله برنامه باشد ميپردازيم.  شما از دو سه مورد ياد کرديد که امريکايی‌ها در اين بوده قبل از آن شوروی‌ها بوده و قبل از آن خود افغان‌ها به نحوی دخيل بودند، هر چند شما گفتيد که روس‌ها کارهای وسيع تری انجام دادند با وجود اينکه اسنادی که آنها تهيه کرده بودند به دست شما نرسيده، ولی اگر فعلاً به تمام اينها، حال، از اينجا دوباره نگاه کنيم، يافته‌های کدام يک از اين منابع بيشتر قابل اعتبار خواهد بود؟

**دکتور غني:** مسئله اعتبار بيشتر يک منبع نيست، مسئله اساسی ترکيب است. طور مثال عينک به طرف قرارداد بدون مطالعاتی که از طرف متخصصين اتحاد شوروی و افغان‌ها انجام شده بود، صورت گرفته نمی توانست؛ اما بعد از آن باز هم نوع قرارداد قسمی بود که وقتيکه چينايی‌ها کار عملی را شروع کردند از وعده‌هايی که داده بودند برآمدند، چون نوع قرارداد، ماهيت مسئوليت‌ها را به شکلی  که قابل تطبيق عملی باشد و در يک محکمه بين‌المللی مورد اعتبار قرار بگيرد، انجام نداده بود.

**جنبش:** په دغه پلټنو کې چې مخکې مو ورته اشاره وکړه د بېلابېلو منابعو او هيوادو له خوا چې ترسره شوي دي، ټول شيان فکر کوئ سپړل شوي دي، ټول اړخونه ... که لاپاتې دي ...؟

**دکتور غني:** نه، نه، دا بالعکس ده. دا ابتدا ده، دا يو تهداب دی. هغه تخمين چې موږ د ۱۰۰۰ ميليارد ډالره تر ۳۰۰۰ ميليارد ډالره لرو، يو دفتر وو د امريکا په دفاع وزارت کې، دا د دوی تخمين و، له هغه تخمين نه واقعيت ته تگ ډېر قدمونه لري لکه چې هغه د يو غره په سر کې دی او تاسې ښکته هوارې باندې يئ. ختل هلته گران کار دی او نقشه هم غواړي. بې له هغې نه دا د ځان غولول دي اما هغه شی باندې چې پوهېږو او هغه شی چې د ځمکې مخ کې دي زښت ډېر شته، اوس خبره په دې کې ده چې څنگه انسجام بايد راشي چې دا د ټول ولس د هوساينې لپاره استعمال شي.

**جنبش:** يعنې هغه څه چې وينو هغه خو شته، هغه څه چې لاندې دي هغې ته بايد پلټنې وشي. اوس راځئ په دې تم شوو تاسې يوه اشاره وکړه چې څه شی چې وويل شي همدغه پړاو نه دی د هغې د جيولوجيکې پلټنو نه، د ځمک پېژندنې پلټنو نه نيولې تر هغو پورې چې تاسو يو شی مومئ او بيا تر هغو پورې چې يو څوک راځي دې کې پانگه اچوي مختلف پړاوونه دي. حتماً موندنه يا د يو چا نظر چې دلته به دا شی وي د پانگونې معنی نه لري، راته ويلی شئ چې دغه پړاوونه څه دي يعنې تر هغو چې يو څوک راشي حاضر شي چې پانگه په کې واچوي؟

**دکتور غني:** پړاوونه دا دي چې لومړي قدم کې بايد حدود تعيين کړئ چې د قرارداد د غوښتنې اعلان چې کوئ، هغه معلومات چې د اعتماد وړ دي او ټول ورته په عين نظر کتلی شي هغه بايد موجود وي. دا د شفافيت موضوع ده او د اعتماد موضوع ده ځکه بايد اساس د معلوماتو په ډېره شفافه توگه پانگه وال ته ښکاره شي. دويمه برخه دا ده چې پانگه وال خپل وړاندېزونه وړاندې کوي او په هغه باندې حدود ټاکي. څومره پانگه اچوي؟ څومره گټه په کې ده؟ د دولت برخه به څه وي؟ او مخصوصاً معادن يوازې ښيگڼې نه لري اوبو ته ضرورت لري او اوبه چټلوي، چاپېريال باندې منفي تأثيرات لري او ټولنې باندې هم، دا ټول ابعاد د دې بايد په نظر کې ونيول شي. له هغه نه پس مرحله دا ده چې دا د تخنيکي له نظره هم بايد وڅېړل شي، اقتصادي له نظره هم بايد وڅېړل شي او د حقوقي له نظر نه او چاپېريال او ټولنيز نظر نه. پس له هغه نه لومړی قرارداد دی چې په هغه کې څرگندېږي چې څومره مودې لپاره دوی به خپلې لومړنۍ څېړنې کوي د خپلو جيولوجستانو له خوا په څه امکاناتو باندې؟ او په هغه دوران کې به مسئول ملک دوی ته څه ورکوي؟ څه رقم ښېگڼې به دوی ته برابروي، څه سهولتونه دوی ته برابروي؟ او يو وارې چې دا تثبيته شوه په دې موده کې، پس له هغې نه بيا راځئ دويمې مرحلې ته او که دې مرحله کې دا نتيجې ته ونه رسېدله بايد شرايط ډېر واضح او ښکاره وي چې دا قرارداد څنگه کنسلېږي يا څنگه رفع کېږي. ځکه چې يوه ډله خلک قرارداد د دې لپاره ترلاسه کوي چې انکشاف ور نه کړي چې وده ور نه کړي او تنها خيټې لاندې يې کړي او بېرته حکومت دې ته مجبور کړي چې قرارداد له دوی نه واخلي. او دويمه مرحله وختې چې دا شيان تېرېږي په دې باندې ده چې واقعاً استخراج څه دی؟ ځکه که دا علم ونه لرئ او پوه نه شئ د مثال په توگه که گاز خرڅوئ چې څومره ميليون متره مکعب گاز مو ځي او دواړه خوا سويچ د نورو په لاس کې وي، خو دلته ستونزې راځي...

**جنبش:** د شوروي وخت کې لکه چې همدغسې وو، فکر کوم؟

**دکتور غني:** بالکل همدغسې وو، ځکه معلوم نه وو چې څومره[ گاز ] وتلي دي او د دې په منځ کې بله خوا هم چې زښته ډېره مهمه ده دا ده چې که قرارداد ورکوئ د مثال په توگه د مسو، دې کې باید ډېر په ښکاره توگه دا شرایط وي که نور عناصر ووتل، هغه د دولت د افغانستان ملکیت دی. عینک په منځ کې د مثال په توگه زموږ یو ډېر تکړه د کابل پولي تخنیک استاد و چې انگلستان کې یې خپله دکتورا په عینک باندې لیکلې وه حد اقل ۱۷ رقمه مرمر معادن په عینک کې پراته دي او د هغې سره...

**جنبش:** یعنې قرارداد که کوو باید ووایو چې یوازې مس یې ستاسې دي دا نور یې په موږ پورې اړه لري.

**دکتور غني:** هغه نه شي کېدای او له هغه نه غیر، د مسو په منځ کې داسې نادره عناصر دي چې سل چنده له مس نه قیمت لري. دغلته دا پوهه په کار ده. اصلي خبرې ته بېرته راځئ: تر [هغو] چې واقعي ملي پوهه، دا شخصي پوهه نه ده دا باید یوه ملي پانگه وي، زموږ لویه ستونزه دا ده چې که هغه اساس چې ۱۹۵۵ کې د معادن او صنایع وزارت باندې ایښودل شوی و بې له جنگو نه دوام کړی وای، نن به افغانستان یوه لویه عظیمه بشري پانگه د دې په مدیریت باندې درلوده. او بل زموږ یوه لویه فاجعه دا وه چې انجنیر صاحب جمعه محمد محمدی چې پس د بېړنۍ لویې جرگې نه د معادن وزارت مسئولیت یې پر غاړه واخیست او واقعاً یوه عظیمه بشري پانگه وه په خپل ځان باندې، شهید شوو، وختې چې پاکستان کې ...

**جنبش:** الوتکه یې ولوېده.

**دکتور غني:** الوتکه یې ولوېده او یو ټیم هم ورسره و، دوی ټول شهیدان شول. منفي برخه یې دا وه چې موږ تداوم نه لرو. او [بشري] پانگه چې منځ ته راغلې وه [اوس] تر ډېره حده پورې وطن کې نشته. ډېره ضروري ده چې د معادنو، د گاز او نفتو او نورو برخو د ځمکې لاندې منابعو لپاره موږ بشري پانگې ایجاد کړو . د ځوانانو لپاره زما خاصه غوښتنه او پیام دا دی چې راتلونکی مو همدې پورې تعلق لري، په دې پورې تړلې دی. په دې ټولو ابعادو باندې باید تاسې ځان پوه کړئ او دې ته چمتو شئ چې د دې عظیمو منابعو مدیریت په غاړه واخلئ.

**جنبش:** تشکر، بحث در این مورد بسیار وسیع است و من میخواهم که کوتاه، کوتاه به مسایل عمده و مهم بپردازیم. من فکر میکنم وقتیکه صحبت میکنیم راجع به ذخایر طبیعی افغانستان، منرال‌های جامد را از منابع هایدروکاربنی باید تفکیک کنیم چون غالباً وقتیکه شما میگویید منابع زیر زمینی، فکر می شود که همه این‌ها زیر یک تعریف معدن میاید، در حالیکه چنین نیست.

**دکتور غني:** مطلق، حرف شما بجاست و انواع مختلف باید از هم تفکیک شوند. در قدم اول نفت وگاز باید از معادن به صورت عمومی تفکیک شود. باز در داخل معادن طبقه بندی‌های واضح دارید، بین انواع فلزات و نوع استعمال این فلزات، مقدار ذخیره این فلزات، شیوه موجودیت این فلزات، قیمت فعلی و پیش بینی قیمت‌های آینده بعضی از این

فلزات و خاصتاً شیوه‌های استعمال این فلزات و نوع استعمال، یعنی اینکه آیا یک فروشنده مواد ابتدایی این فلزات می شوید یا این فلزات مبدل می شود به یک سرمایه گذاری بزرگ که صنعتی شدن افغانستان و ایجاد زمینه کار وسیع و منبع عاید [را باعث می شود] و در عین حال نکته کلیدی این است که آیا این منابع تنها برای نسل‌های فعلی استعمال می شود یا یک قرارداد با نسل‌های آینده است. آینده را در نظر بگیرید چون ما وشما سر سال ۲۰۴۷ صحبت میکنیم یکی از نکات عمده این است که برای آن سال و سالگره ۳۰۰ سالگی افغانستان معاصر چه رقم اقداماتی صورت بگیرد که آینده نگر باشد.

**جنبش:** ډېر تفصیل ته به نه ځو، خو بیا هم یو تصویر که ورکړو د هغو معلوماتو نه چې تراوسه پورې د دولت د رئیس په توګه ستاسې په اختیار کې وو یا د مالیې په وزارت کې، لومړني معلومات څه دي د دغو منرالونو په باره کې جامدو منرالونو په باره کې چې کېدای شي څومره وي؟ تاسې [يې د ارزښت] يو تخمين ووايه له ۱۰۰۰ میلیاردو نه تر ۳۰۰۰ میلیاردو ډالرو پورې او څومره به ګاز لرو آیا د ګازو له پلوه هم همدغومره اهمیت لرو څومره چې د جامدو منرالونو له پلوه لرو؟

**دکتور غني:** لومړی به دویمې برخې د سوال ته ځواب ورکړم. تراوسه پورې اصلي ځېړنې د ګاز او پټرولیم لپاره نه دي شوي. عمده دلیل يې دا دی چې د ګازو او پټرولیم ځېړنې په شمال د افغانستان کې د شوروي اتحاد له خوا وشوې. دوه وارې که زما حافظه په ځای وي او مرحوم میوندوال  مساوات [ورځپاڼه] کې دې باندې لیکنه کړې وه، وختی چې دولت د افغانستان ددې اقدام وکړ چې نورې کمپنۍ له اروپايي هیوادو او امریکې نه راوغواړي، د شوروي اتحاد له مخالفت سره [مخامخ] شو او هغه خلک رانغلل. فرانسویان یوازینی ګروپ و چې پکتیکا کې يې تفحصات وکړل د ټوټل کمپنۍ، او دا په ۱۹۷٦ کال کې و، زما په یاد دي او له ښه مرغه تېل يې پیدا کړل مګر د هغه وخت ټکنالوجی سره [يې هغه وخت استفاده] ګرانه وه.

**جنبش:** د کټواز  او دغو سیمو کې؟

**دکتور غني:** **د** کټواز سیمې کې. شاید کټواز یوه لویه منبع وي. د عبدالرحمن خان په وخت کې سراج التواریخ کې دا ثبت شوې ده، په هرات کې تېل خپله ووتل او بیا هغه امر وکړ چې څاه وتړي.  زموږ لویې زېرمې په سرپل کې دي. سرپل دوه شیانو باندې مشهور دی: یو د رنګ له نظره ډېرترین د لاله ګلونه د سرپل ولایت کې دي او بل معلومدار د تېلو څاه ګانې دي او د تېلو څاه‌ګانې په تېو کې دي، په هواره کې نه دي، اما دا یوه لویه منبع ده. د هرات برخه چې د کُشک ساحه ده خاصتاً، د هلمند برخه او د کټواز لا سم تحقیقات وربانديې نه دي شوي او دا ډېره لازمي ده چې دا تحقیقات وشي. له هوا نه د آخري  ټکنالوجی [معلومات] چې ما لیدلي [ښيي چې]، په بغلان کې هم دا احتمال شته. د تېلو په برخه کې داسې نه دي چې موږ به په یو صادر کوونکي باندې بدل کړي اما د داخلي مصارفو لپاره د اهمیت

وړ دي او دا توجه غواړي. گاز بل رقم ابعاد لري او احتمال د دې چې د گاز ذخاير مو د توجه وړ وي او په منطقه يي يا نړيواله سطحه باندې وي، نورې څېړنې غواړي.

**جنبش:** د منرالونو په باره کې، ښه، زموږ خلک پوهېږي چې مثلاً اوسپنه لرو، مس لرو، سره زر لرو. په دې اخرو کې د ليتيم او يورانيم په باره کې هم ويل کېدل حتی داسې يوه اصطلاح هم گډه شوې وه چې افغانستان د ليتيمو سعودي عربستان دی، دا واقعيت دی يعنې بنسټ لري دا خبره ؟

**دکتور غني:** بلې هو، دا واقعيت لري په څو دليلونو باندې: يو د شوروي اتحاد د متخصصينو له خوا په ننگرهار او کونړ کې څېړنې وشوې، همدغه رنگ په غزني کې او کندهار او هلمند کې. موږ دوه رقمه ليتيم لرو، يو هغه ليتيم دي چې غرونو کې دي، بل هغه ليتيم دي چې پخوانيو رودونو کې دي چې تاريخي رودونه وو، بيا وچ شوي دي چې هغه وخت کې افغانستان لا سمندر [سره] تړلی و. د ننگرهار او د کونړ ليتيم زما د مسئوليت په دوره کې موږ بيا تثبيت کړل ځکه بيا مو خلک وروزل او هغه ابتدايي اسناد چې د شوروي اتحاد د متخصصينو له خوا [چمتو] شوي وو بيا تثبيت شول. نو ليتيم يوه برخه وه او قانون کې هم دا راغلې ده چې موږ به يوازې په اقتصادي معيارو نه بلکې د ملي امنيت په استناد د دې مديريت کوو او زما طرحه دا وه چې کم له کمه يو لوی کنسورشيم، يوه لويه اتحاديه د اماراتو، کاناډا، جرمني، جاپان نه او استراليا نه جوړه کړم او دې ټولو ملکو سره غږېدلي وو چې دې ته موږ څنگه وده ورکړو، ځکه دا د نړيوال اقتصاد په برخه کې د بيټريو له پلوه [ډېر ارزښت لري]. خاصتاً هغه موټرونه چې بريښنا باندې گرځي، ټول په بيټرۍ پورې تړلی دي او له دې نظر نه ليتيم د افغانستان له چين نه [وروسته مقام کې راځي] او د افغانستان ليتيم په آسيا کې او نړيوال نظر نه، يو ډېر خاص اهميت لري. شايد گرين‌لنډ هم دا منابع ولري اما ډېره برخه پورې يې انکشاف نه دی کړی. نور نادره عناصر هم [افغانستان کې] تثبيت شوي دي، اما دقيق مقدار [معلومول يې] نورو څېړنو ته ضرورت لري.

**جنبش:** شما يک اشاره کوتاه به زمان امير عبدالرحمن خان داشتيد، شايد در همان زمان بوده که انگليس‌ها در منطقه، از جمله در ايران در همسايگی ما به تفحصات پرداخت و تا جاييکه به من معلوم است در سال ۱۹۰۹ نخستين شرکت مشترک بين فارس و برتانيا ساخته شد. چرا ما از نظر تاريخی از اين‌ها عقب مانديم يعنی در هيچ ساحه ای هيچ گونه تفحص بين‌المللی صورت نگرفت، مشکل در کجا بود؟

**دکتور غني:** مقصد تان از تفحص بين‌المللی در قرن ۱۹ است يا...؟

**جنبش:** از همان اوايل بعد از قرن ۱۹ در زمان امير حبيب الله خان هم، در آغاز قرن ۲۰...

**دکتور غني:** يعنی تا دوره داود خان مقصد تان است؟

**جنبش:** بلی.

**دکتور غني:** این دو بُعد دارد، نکته اول عبدالرحمن خان مخالف سرمایه‌گذاری بین‌المللی بود. خط آهن را اجازه نداد، خط تلگراف را که بین کابل و پشاور ایجاد شده بود قطع کرد. تمرکز اساسی او سر حفظ استقلال افغانستان بود. بخارا را از نزدیک مطالعه کرده بود، ۱۱ سال را فراموش نکنید در تاشکند تیر کرده بود و خط آهن و تلگراف و سرمایه گذاری دیگر را عامل مستعمره بودن می دانست. و بعد از آن شرایط بین‌المللی با ایجاد اتحاد شوروی سابق تغییر کرد و منابعی را که انکشاف داده شد این‌ها زیر کنترول داشتند. در عراق طور مثال، انگلیس‌ها در حدود ۳۰ سال منابع بسیار وسیع نفت عراق را که کشف کرده بودند با عراقی‌ها شریک نه ساختند، چون می خواستند مقدار زیر کنترول باشد و در آن وقت هم پولی را که به کشور های میزبان می دادند مثل ایران یا عراق وغیره حد اقل بود. این تنها در سال ۱۹۷۳ با تحریمی که بعد از جنگ اسراییل و مصر و سوریه و اردن به وجود آمد، قیمت‌ها تغییر شد و [سازمان] اوپک به قوت عرض اندام کرد. و قسمت دیگر آن، عدم انکشاف سرمایه بشری خود ما بود. چون دانش اساسی را که ضرورت بود و ما باید ایجاد می کردیم [به میان نیامد]. امان الله خان ترتیبات ابتدایی [ایجاد سرمایه بشری] را گرفته بود، مگر متاسفانه با انحلال حکومت او [به سر نه رسید]. و بعد از آن عبدالمجید خان زابلی ترتیب یک طرح اساسی انکشاف افغانستان را در سال ۱۹۵۲ به امریکا پیشنهاد کرد که در حدود ۲۵۰ میلیون دالر قرضه به کار داشت، متاسفانه این‌ها قرضه را رد کردند و رد این قرضه در تاریخ اقتصادی ما واقعاً یکی از فاجعه‌هایی است که مسیر تاریخ اقتصادی ما را تغییر داد.

**جنبش:** همدغه وخت چې فارس او برتانیا سره قرارداد کاوه د تېلو په برخه کې فکر کوم د اوسني ایران په غربي برخو کې...

**دکتور غني:** مسجد سلیمان و.

**جنبش:** مسجد سلیمان کې بلې، د سراج الاخبار یو متن مې په یاد راغی دا په ۱۹۱۲ کال پورې [اړه لري]، د سراج الاخبار د لومړي کال په ۲۳ مه گڼه کې راغلي چې ښيي افغانانو د بهرنیانو ښکېلتیا باندې شکونه درلودل. مثلاً ورځپاڼې خبر داسې دی، زه به یې تاسې ته لنډ ولولم چې اورېدونکي هم پوه شي، وایي: «زموږ ځانگړی خبریال له لندن نه لیکي هغه انگریزان چې د کانو د پېژندنې لپاره افغانستان ته تللي وو یوه خریطه یعنې د افغانستان د کانونو نقشه یې د ځایونو او د عمومي سیمو له نښه کولو سره یوځای له هغې نقشې نه جلا چې د افغانستان حکومت ته یې ورکړې، په پټه چمتو کړې او تر وتلو دمخه یې فارن آفېس (Foreign Office) یعنې د بهرنیو چارو وزارت ته لېږلې وه، کله چې نقشه لندن ته را ورسیده چمتو کوونکو ته یې د جوړولو لپاره ۳۶ زره پونډه د انعام په ډول ورکړل شول.»

**دکتور غني:** دا اسناد واضح دي، دا ټول متخصصین چې وو که ډاکټر و که انجنیر و که نور متخصصین وو د فابریکو او دا...دې ټولو به گزارش ورکاوه ځکه دا یې خپله ملي وظیفه بلله، همدارنگه په سروی گانو [کې هم خبره همدا وه]. نقشو باندې عبدالرحمن خان ډېر سخت وارد و او د همدې لپاره یې یو کشمیری مسلمان چې بریگیډر سبحان نومېده

استخدام کړ په څلور چنده معاش چې انگریزانو ورکاوه، مگر پس ته یې بیا وواژه. دلته د بې‌اعتباری فضا هم وه، او هم ضروري وه، ځکه انگریزان د عبدالرحمن خان دوره کې مطلق په دې نظر وو چې افغانستان ته به بیا راځي او تېری به کوي او دلته باید [ورته له وړاندې نه] آمادگي وي، داسې نه وه چې د افغانستان دوام یا استقلال یې منلی و. دواړو خواوو کې بې اعتباري وه او د همدې لپاره و چې غیر د سرحداتو له تعیین نه تر آخره پورې عبدالرحمن خان انگریز سفیر ونه مانه. یو مسلمان سفیر به و، مسلمان استازی به و او چې له دوی نه به یې استازیتوب کاوه چې د امیر شیر علی خان په دوره کې هم و.

**جنبش:** دغه نقل قول چې ما د ورځپاڼې نه راوړ کېدای شي دې کې مبالغه هم وي، خو ستاسې خبره دقیقه ده چې په افغانستان کې په معلومو دلایلو د غربیانو یا د بهرنیانو، د هر بهرني له ښکېلتیا سره یو ډول شک موجود و او څوک یې نه پرېښودل چې په کې ورگډ شي. علاقه‌مندی شما به ذخایر زیر زمینی افغانستان داکتر صاحب غنی از چه وقت بود، از زمان تصدی ریاست دولت یا قبل از آن؟

**دکتور غني:** نخیر، این از دوران جوانی من شروع شد، در دورانی که من در مکتب ابتدایی در استقلال و بعد از آن در مکتب حبیبیه بودم، موضوع انکشاف افغانستان یکی از موضوعات داغ بود و از برکت داکتر صاحب یوسف خان که ذکرش را کردم و متخصصین دیگر ما، همه ما متوجه معادن بودیم. و بعد از این پیشرفت‌هایی که شد مخصوصاً در نفت و گاز بعد از ایجاد شاهراه سالنگ، کابل و شمال افغانستان با هم به شکلی بسته شدند که به صورت روزانه سفر کرده می توانستید و پس آمده می توانستید. [بناءً] نقاط تفحصات نفت و گاز را من از نزدیک دیدم و تاثیر اساسی بالای ذهنیتم گذاشت. بخش دوم علاقه من از نگاه تحقیقات من در اقتصاد سیاسی بود.

قسمت زیاد تحقیقات من روی دولت سازی بود و یکی از اساسات دولت‌سازی، معلومدار منابع مالی اش است و از این جهت استفاده و سوء استفاده از منابع طبیعی یکی از موضوعات عمده تحقیقات دوامدار من در طول عمر من بوده. و قسمت سومش در بانک جهانی بود که پالیسی سازی‌های دولت‌های مختلف را مخصوصاً در ۵ سال آخر، به صورت روزانه تعقیب می کردم و وقتیکه دوباره فرصت خدمت در وطن ایجاد شد، در وزارت مالیه، من طرح مصئون ساختن آینده افغانستان را در کنفرانسی که در برلین در ۲۰۰۴ گرفته شد، تهیه کردم و از این جهت بود که ابعاد مختلفی را که ما وشما سرش صحبت کردیم از آب، موقعیت، منابع طبیعی ما و خاصتاً معادن و پترولیم و این‌های ما، [همه] نکاتی بود که به صورت اساسی تهیه کردم و بعد از این که من مسئولیت ریاست جمهوری را گرفتم مجبور شدم که باز تمام اسناد را سر تا پا شخصاً بخوانم.

**جنبش:** وبخښئ، پوښتنه مې دا ده چې نه یوازې مو ولوستل بلکې تر کومه چې ماته معلومه ده شخصاً په ډېرو شیانو کې دخیل شوئ، علت یې دا و چې نور پرې نه پوهېدل که پر هغوی مو ډېر باور نه کاوه؟

**دکتور غني:** نه خبره د باور نه وه  خبره د دې وه چې ما تاسې ته مخکې هم عرض وکړ چې موږ د بشري پانګې تداوم نه لرو. لومړی چې زه ولسمشر شوم زه لاړم د معادن وزارت ته، څو سوه میلیونه ډالره د معادنو وزارت په باندنیو متخصصینو باندې لګېدلي وو او ما دې ټولو سره له نزدې نه وکتل. یو مثال یې درکوم: چینایانو سره موږ په اصلي بحث کې وو چې آیا کافي سکاره لرو سمنګانو او مرکزي افغانستان کې چې برېښنا تولید کړو [که نه]، ځکه قرارداد په برېښنا باندې و. که زما په یاد وي دوی ۴۰۰ میګا واټه یا د دې په حدودو کې [برېښنا د تولید ویلي] و. چینایانو ادعا درلوده چې تاسو سکاره نه لرئ نو متخصصینو ته ګورم وایم چې سکاره لرو که نه یې لرو؟ یو یې وایې لرئ، نه یوازې یې لرئ ډېر اوچت سکاره لرئ - دا یوازې شخصي متخصصین نه وو شرکتونه وو چې پیسې یې ورکولې- بل یې راځي وایي نه، تاسې یې نه لرئ! داسې شی دوی نه و پرېښی چې هغه باندې دا څو سوه میلیونه ډالره چې لګېدلي وو تاسې ته یوه نتیجه درکړي او منځ کې ګډوډي وه. بل، وختی چې د جیولوجی د امریکې سروی ګانې بشپړې شوې، زه په امریکې کې په یو سفر کې وم مانه یې غوښتنه وکړه که د دې نتیجه ګیرې موږ ته ووایې، ځکه هغوی خو جیولوجي ټوله کړې وه، اما دا چې د دې نتایج افغانستان ته څه دي، جیولوجستان خو پالیسي جوړوونکې نه دي! د هغه لپاره لومړۍ خبره چې ما ورته وکړه، ما وویل چې دا د ملي وحدت لپاره یو نعمت دی، ځکه د افغانستان منابعو ته چې وګورئ داسې زون د افغانستان نشته چې بډای نه وي.

**جنبش:** همدا مې بله پوښتنه وه چې یعنې [دا منابع] څنګه تقسیم شوي دي؟

**دکتور غني:** واقعاً هر زون  د افغانستان او هر ولایت د افغانستان خاصې زېرمې لري او د دې ترکیب ته که وګورئ معنی یې دا ده چې خدای جل شانه غوښتل چې دې وطن کې ملي وحدت وي. عراق ته که وګورئ یو ځای کې تېل دي او نور ټول ورباندې اخته دي او نه جوړېږي، اما په افغانستان کې د منابعو تقسیم زښت ډېر په اساسي توګه او په سمه توګه شوی او یو بل سره متمم دي. نو له دې نظر نه دې ماته زښت ډېر اهمیت درلود. بله برخه دا ده چې پالیسی جوړول له معلوماتو اخیستلو نه فرق لري، ځکه ابتدایي معلومات چې ټولوئ... چې ساده یې ووایم، که یو غره ته خیژئ خو باید یوه لاره ولرئ او یا، که کونړ کې کیناستلي يئ او غواړئ قندهار ته لاړ شئ خو باید ویې سنجوئ له کومې لارې نه ځئ. نقشه جوړول یوه اساسي خبره ده او هم د نقشې جوړولو معنی دا ده چې لنډ مهال، منځ مهال او اوږد مهال نظر کې ونیسئ او بل لوی ترینه برخه د یوې نقشې د لارې جوړولو دا ده چې باید خنډونه په واضح توګه تشخیص کړئ او منځ کې طبقه بندي د لومړیتوبونو وکړئ او بیا پوه شئ که یو هدف ته ټاکئ دې هدف ته څنګه رسېږئ. دې برخه کې که زما ونډه وه همدا وه چې زه دې ته روزل شوی وم چې زښت ډېر معلومات وګورم، سره یوځای یې کړم او یوه نتیجه ګیرې ورنه واخلم. دغه زما برخه وه او پس له هغې نه د دې مل شم چې همکاران د دې په عملي کولو کې مخکې لاړ شي او که خنډونو سره مخامخېږي ښېرته موږ وکړی شو په یوې نقشې لاړ شو. اما په دې ترتیب باندې چې یو راشي چې نن دلته [زېرمې] شته یا دلته نشته یا دې برخه کې دا کوو یا دا...، زموږ جنجال دا دی چې تخنیکې له نظر نه هغه لازمي اجماع چې له راشې درشې نه، له مکتب نه، پوهنتون نه بیا عملې کار نه راځي، ډېره تشه ده، عمق نه لري. او د

همدې لپاره و چې د ولسمشر په حیث باندې ما باندې یو عظیم بوج و چې په نورو ولسمشرانو باندې نه و. ځکه تاسې تخنیکي برخې کې یا پالیسی جوړولو کې راځئ چې بدیلونو باندې وغږیږئ او منځ کې انتخاب وکړئ. په ما باندې بوج دا و چې باید ټول اسناد مې کتلي وای سر تر پایه هر سکتور کې چې و او مخصوصاً یو عمده سکتور لکه دې غوندې چې اساس د نورو و.

**جنبش:** تقریباً به پایان این برنامه نزدیک می شویم و بناءً فکر میکنم که نیاز خواهد بود که این بحث را در یک برنامه دیگر ادامه بدهیم. در پایان بخش اولی می خواهم، شما اشاره ای داشتید به این که معادن و نعمت‌های زیر زمینی را، گنج‌های زیر زمینی را برای امروز می خواهید به نسلی که فعلاً زنده است برای آن می خواهید یا یک نوع قراردادی است، یک نوع تعهدی است در برابر نسل‌های آینده. با توجه به همین، از آنچه که شما به آن تا حالی اشاره کردید و تجاربی که داشتید در این زمینه میخواهم بفهمم که چه کارهایی در زمینه تفحص و استخراج و سرمایه‌گذاری معادن و منابع هایدروکاربنی باید صورت بگیرد و از چه چیزهایی باید اجتناب شود؟

**دکتور غني:** اسپانیه پول دار ترین امپراتوری جهان در قرن ۱۶ تا ۱۸ بود، چون سر طلا و نقرهٔ امریکای لاتین استوار بود، اما به یک کشور عقب مانده اروپا بدل شد، از جهتی که به غضب آمد، عوض اصلاحات بنیادیِ که بیاورند و دولت‌سازی را که ضرور بود انجام بدهند، بزرگترین امپراتوری دنیا را از دست دادند. انگلستان که یک کشور حاشیوی بود، با مدیریت متفاوت توانست خود را به بزرگترین امپراتوری جهان بدل کند. کانگو امروز در افریقا، غنی‌ترین کشور افریقا از نگاه منابع طبیعی است، اما در عین حال یکی از بدبخت ترین کشورهای روی زمین است. ناروی بالعکس یکی از موفق ترین کشورها در مدیریت سرمایه هنگفتی که از نفت و گاز دارد [می باشد] و اگر ناروی را خاصتاً اُسلو را ببینید هنوز هم شکل زندگی آنها با اعتدال است و صندوقی را که این‌ها ایجاد کردند برای مدیریت آینده بی نظیر است. در قرن ۲۰ ایران، عراق، ونزوئلا، اندونیزیا؛ ثروت اینها موجب تلاطم دوامدار و بی ثباتی‌های دوامدار، افراط و تفریط، انقلاب‌ها و غیره شد. اندونیزیایی که امروز به یک انکشاف چهار گام پیش میرود، بر اساس ثروت نفت نیست بلکه بر اساس یک مدیریت نهایت متفاوت است، بنابراین تجارب واضح است، اما ضرور نیست که این را خود ما دوباره تجربه کنیم.

نکته دومش شفافیت واضح است. بدون حاکمیت قانون، شفافیت، سرمایه گذاری بالای قوه بشری و ابعاد مختلف قوه بشری [نتیجه مطلوب به دست آمده نمیتواند]. جیولوجی اگر یک طرف آنست، طرف دیگرش مدیریت اقتصادی است، طرف دیگرش ظرفیت مذاکرات قانونی، قراردادها، مدیریت آن، ابعاد مختلف آنست که باید با هم منسجم باشد. مثلی که از یک دست آواز بر نه می آید و دو دست را ضرورت دارید، ضرورت هماهنگی واضح است، اما مهمتر از همه، یک اراده واضح سیاسی و مشروعیت است. بدون مشروعیت داخلی، مشروعیت منطقوی و بین‌المللی آن سرمایه گذاری هنگفتی را که ضرورت است، که این منابع را به سرمایه واضح برای تامین رفاه افغانستان و ایجاد مناسبات وسیع

منطقوی و بین‌المللی [مبدل کند]، صورت گرفته نمی تواند. باید واضح بفهمیم که اگر می خواهیم به صورت قاچاق از منابع استفاده شود یا مواد خام، معلومدار وسیله آن [در این صورت] شبکه‌ها است، اما اگر می خواهیم که این منابع ما برای رفاه دوامدار افغانستان استفاده شود، ضرورت به نوع دیگر دانش و مدیریت است و آن قابل دسترسی است، اما تصمیم واضح [نیاز] دارد که در یک اجماع لازم اتخاذ شود.

**جنبش:** ډېره مننه ولسمشر محمد اشرف غني، په کومو خبرو چې تر دغه ځایه راورسېدو زه فکر کوم دا د دې ارزښت لري چې په راتلونکې خپرونه کې له همدغه ځای نه پیل وکړو ځکه چې ستاسې تجربې په دې برخه کې باید نسلونو ته ډېرې مهمې وي نو ستاسې په اجازه او د اورېدونکو په اجازه به د افغانستان د طبیعي زېرمو په اړه د خپرونې دا لومړۍ برخه همدلته پای ته ورسوو، تاسې او اورېدونکو ته کور ودانی وایم، ژوندي اوسئ.

**دکتور غني:** مننه له تاسې نه او ټولو اورېدونکو نه.

زنده باد افغانستان، تل دې وي افغانستان، یشه سن افغانستان.